# د پښتو فونيم " ښ" د نوم او موقعيت په اړه څېړنه

## Research on the name and location of Pashto phoneme "ښ"

[1]Dr. Qadar Wahid Samandar Yousafzay


**ABSTRACT**

*All languages have their own phonemes according to their needs and there are different symbols to identify these phonemes; Pashto language, like other languages, has its own unique sound (phonemes) which include a phoneme (ښ). Although this phoneme cannot be spoken properly by the people of many areas, but its presence is necessary and important. Unfortunately, this symbol has been mentioned by different scholars and institutions at different times, under different names such as (ښې) and (ښيم) - This article also examines the name and location of this particular Pashto phoneme*


[1] Lecturer, Department of Pashtu, University of Malakand



Pukhtunkhwa Journal

لکه څنګ چې د هرې ژبې د خپلو ضروریاتو تر مخه خپل خپل فونیمونه وي او د دغې فونیمونو د پېژندګلو د پاره مختلف علامتونه وي ـ پښتو ژبه هم د نورو ژبو په شان غږونه لري چې څه پکښې خپل ځانګړي او مخصوص غږونه یعني فونیمونه هم دي چې دا به شاید په مختلفو وختونو کښې په مختلفو رسم الخطونو کښې لیکلې شوي وي ځکه چې د پښتو ژبې تاریخ که هر څو هم د هغه ځایه پېل کیږي د کوم ځایه چې د پښتون تاریخ شروع شوے دے خو د پښتو ژبې لیکنۍ بڼه ډېره وروسته په نظر راغلې ده ـ

> " دا په یقین سره معلومه نۀ ده چې د اسلام نه مخکښې پښتو څنګه لیکلې شوه، ځینو پوهانو په خروشتي لیک دود کښې د پښتو ټکي موندلي دي او شاید چې څه وخته پورې ئې دغه لیکدود پاتے شوے وي البته دا یقیني ده چې دې سیمې ته د اسلام رارسېدو نه پس پښتو عربي رسم الخط خپل کړے دے او تر نن ئې هم دغه رسم الخط ساتلے دے"[1]

په دې خبره کښې هیڅ شک نشته چې د اسلام د سپیڅلي دین د راتګ سره د پښتو ژبې رسم الخط هم د مذهب سره د عقیدت او ضرورت له مخې وروښتې دے خو بیا هم د پښتو ژبې د غږونو ضرورتونه په یو سر عربۍ ژبې نۀ شوه پوره کولې ځکه نو د فارسۍ او هندۍ ژبې ګرافیمونه ئې خپل لاس ته راوړلي دي خو بیا هم دغې دریو واړو ژبو د پښتو د غږونو ضرورت نه شو پوره کولے ځکه نو پښتنو د خپلو مخصوصو غږونو یعني فونیمو له پاره ګرافیم یعنې غږ توري وضع کړې دي چې په بنیادي توګه څلور دي او د "ئې ګانو" د اضافې سره په ګډه تر دې دمه ئې تعداد څلور څلویښتو ته رسېدلے دے او د نورو اضافو ضرورت پکښې د وخت سره نور هم پېخیدے شي د پښتو مخصوص غږونه " ځ" ځ"ړ" ښ" څلور دي ـ د دغه څلورو واړو ګرافیمو خپل خپل غږونه او نومونه دي چې یو پکښې د " ځ" دے ـ هر څو که دغه فونیم د ډېرو سیمو خلق په سمه توګه نه ادا کوي خو بیا هم شتون ئې ضروري او مهیم دے خو له بده مرغه دغه علامت په مختلفو وختونو کښې مختلفو پوهانو او ادارو کله د " ځې" په نوم یاد کړے او کله په " ځیم" یاد کړے او لیکلے دے ځکه نو باید چې پښتانۀ دغه ګرافیم په یو نوم یاد کړي او په اولس کښې غلط فهمۍ ختمې شي ـ

د پښتو د مخصوصو غږونو له پاره چې په وړومبي ځل کوم علامتونه یعني ګرافیم وضع شوي دي سره د هغې او ټول رسم الخط په حواله د محمود غزنوي په دور کښې د قاضي سیف الله او د سلیمان ماکو " تزکرته اولیاء" ذکر کیږي خو په دغه حواله د رسم الخط مستند او بشپړ شکل د بایزید انصاري د مشهور کتاب خېرالبیان نه وړاندې نۀ ځي[2] ـ

> "په دې کتاب کښې هغه د نورو دعوو سره یوه دعوه دا هم کړې ده چې د پښتو لیکدود ماته خدائے پاک د الهام په ذریعه ښئیلے دے ـ د دې نه معلومېږي چې د هغه تر وخته د پښتو څه متفقه او منظم لیکدود نۀ وو،خصوصاً د پښتو د مخصوصو تورو"[3]

بایزید انصاري د پښتو د مخصوصو غږونو له پاره چې کوم علامتونه وضع کړي دي په هغې کښې ئې " ځ" په دې ډول لیکلے دے[4] ـ چې د ضرورت اندازه ئې د دې نه کېدے شي چې وروسته اخوند درویزه د "ځ" د ضرورت نه انکار نه دے کړے ـ اخوندرویزه د بایزید انصاري په لیک دود کښې ترمیمات وکړل او د نورو ډېرو بدلونونو سره ئې د "ځ" استعمال د "ځ" په ځائے هم وکړو[5] ـ د بایذید انصاري او اخوندرویزه نه پس خشحال خان خټک د نا معلومو وجوهاتو تر مخه د"ځ" په یو بل رنګ لیکلے دے خو د پښتو د دې مخصوص غږ توري د ضرورت او اهمیت نۀ ئې انکار نۀ دے کړے ـ

د "ځ" د تاریخي پس منظر نه پس که د دې فونیم د استعمال په حواله خبره کوؤ او یا د نورو ډېرو غږونو نو مونږ په دې نتیجه رسو چې د پښتو ټول غږونه په سمه توګه ټول پښتانۀ نشي ادا کولے د مختلفو سیمو پښتانه د مختلفو غږونو ادائېګي سمه نشي کولې خو بیا هم په څه نه څه شکل کښې د دغې غږ تورو استعمال ضروري دے ځکه چې د لهجو د فرق او نورو مسئلو باوجود دا ضروري ده چې تر ممکنه حده پورې دې د پښتو په لیکدود کښې یووالے راشي ـ د پښتو یو شمېر غږونه داسې شته چې ټول پښتانه ئې په سمه توګه نشي ادا کولې چې پکښې (پ،ف)،(ح،خ)،(ج،ژ) (ړ،ګ)،(ک،ق) ( ځ،ز،ذ،ظ،ض) او ( ث،ځ،س،ص) خو لیکل او موجودګي ئې ضروروي ده محض د "ځ" نه علاوه نور ټول غږ توري خپل نومونه لري ځکه نو د نومونو په حواله څه ستونزه نۀ پیدا کوي

د "ځ" په حواله یواځې د غږ د ادائیګۍ مسئله نۀ ده بلکې د دغه ګرافیم یعني غږ توري د نوم هم ده چې مختلف پوهان او مختلفې ادارې ئې په مختلفو نومونو یادوي ـ د برې پښتونخوا زیاتره پوهان "ځ" په ځې یادوي چې پکښې صدیق الله رښتین[6] پوهاند مجاور احمد زیار[7] او اسماعیل یون[8] او عبدالقیوم زاهد مشوانی[9] شامل دي ـ دغه شان په کوزه پښتونخوا کښې پښتو اکېډمي په خپلو کتابونو او چارټونو کښې "ځ" په ځې لیکي[10] د پښتو اکېډمۍ په لغت کښې د " ځ" (ت+سې) په حواله لیکي د پښتو حروف تهجي لسم تورے،ځینې خلق د دې توري تلفظ د سین په شان کوي خو په اصل کښې دا ځان ته خپل اواز لري چې د (ت+سې) ګډ اواز پیدا کوي[11] ځکه نو ډېر پوهان په شعوري توګه "ځ" ځې وائي او څه ئې ورته په غېر شعوري توګه وائي او هم ئې لیکي او که څوک د انټرنیټ له لارې د پښتو د غږتورو فهرست او چارټ ګوري نو په یو شمېر کښې "ځ" ته ځې لیکلې شوې ده ـ

بل خوا "ځ" غږ توري ته چې د ځیم نوم کومې ادارې او پوهان وراکوي هغه څه په دې ډول دي ـ

خیبر پښتونخوا ټیکسټ بک بورډ پېښور په خپلو د پښتو په درسي کتابونو او چارټونو کښې دا غږ توری "ځ" په (ځیم) لیکلے دے[12] ـ د دې نه علاوه چې د دې اداري له خوا کوم د " پښتو لغت دریاب" د قلندر مومند او فرید صحرائي له خوا تالیف شوے دے، په هغې کښې د دې غږ توري په حواله داسې لیکنه شوې ده ـ

" ځ (ځیم) حرف-واحد-مذکر-د"ا،ب" د پټی لسم حرف چې د ابجدو په حساب د"ج"هومره درې شمېره لري"[13] ـ

د باچا خان مرکز له خوا چې د پښتو توري کوم چارټ خپور شوے دے په هغې کښې د پښتو دغه مخصوص غږ توری په "ځ"ځیم لیکلے شوے دے ـ د غه شان اجمل ختک په "پشتو ادب،ماضی و حال " کښې هم په " ځ" ځیم داسې یاده کړې ده ـ

" اسی طرح ځ (سیم) کہتے ہیں۔ اسکا تلفظ چ اور س کے درمیان ہے، مگر "چ" اور "س" کے طور پر بھی بعض قبائل اس کا استعمال کرتے ہیں۔ مثلاً څادر کو چادر بھی کہتے ہیں اور "سادر" بھی۔چ اور س کے درمیان ایک اور تلفظ بھی اس کا ہے جو لکھا نہیں جاسکتا"[14]

د "ځ" غږ توري د تلفظ او استعمال په حواله ډاکټر راج ولي شاه لیکي ـ

" د دې توري اصل تلفظ داسې دے چې د ژبې سر پکښې د برنو غاښونو سره ولګي او د چ یو نیمګړے شان اواز پیدا کړي،دغه وجه ده چې ځنه پښتانهٔ د سیسن په اواز او ځنه د "چ" په اواز وائي او لولي، لکه څادر چې ځنه پښتانهٔ ئې "چادر" او ځنه ئې" سادر" وائي او لولي ـ دا تورے اکثر په هغه کلمو کښې راځي چې زمونږ په مشرقي ګاونډي ژبو هندی،پنجابی،سرائیکی او سندی یا په مغربي ګاونډي ژبو فارسی،دری پهلوی کښې په " چ" لیکلے شي ـ لکه څادر،چادر،څلور،چهار،څرمن چې په سنسکرت کښې چرمن او فارسی کښې چرم ده ـ د پښتو اکېډمی د لغت مطابق د ځ اواز د ساکني ځ او ساکن سین نه جوړ دے"[15]

د دې او بره نورو ذکر شوؤ حوالو په بنیاد دا خبره واضیحه شوه چې د پښتو د دې مخصوص غږ توري "ځ" اواز او ادائیګي په مختلفو سیمو کښې خلق مختلف کوي چې د سوات په حواله ډاکټر محمد علي دیناخېل داسې وائي ـ

" زما د تحقیق مطابق د " ځ" اواز په سوات کښې نشته"[16] ـ

لکه څنګه چې واضیحه شوه چې د دې مخصوص غږ په حواله د پوهانو هم خیالات مختلف دي خو بیا هم د غږ پوهنې د اصولو تر مخه د پښتو دا مخصوص غږ تم مښلے یا تم مرلے غږ دے چې په انګرېزی کښې ورته affricate وائي او افریکېټس یعنې تم مرلي هغه غږونو ته وئیلے شي په کومو کښې چې د تم کېدو یعنې stop کېدو او مرلي کېدو یعنې fricative دواړو خاصیتونه په یو وخت موجود وي ځکه خو ورته د دغه دواړه قسمه غږونو مرکب یعنې تم مرلي غږونه وئیلي شي ـ دغه مرکب غږونه چې کله پیدا کېږي نو د پړپوس نه راروانه شوې هوا یو دم بنده شي یعنې تم شي او بیا غږ غږي د یو بل نه په دومره مقدار کښې لرې شي چې دغه بنده او تم شوې هوا په ډېر فشار سره په مرلي او سولېدلي انداز بهر ووځي او یو خاص قسمه غږ پیدا کړي ـ د دغې غږونو ابتداء د هوا په بندېدو یا تم کېدو سره کېږي او په مرلي او سولېدلي صورت کښې پائے ته رسي ځکه خو دا ډېره مشکله شي چې دا یو فونیم دے که د بېواکو یعنې کانسونېنټونو جوړه ده ـ له هم دغې لامله د نړېوالو غږونو په الفباء (International phonetics alphabet) کښې تم مرلي غږونه په دواو تورو یعنې حرفونو کښې لیکلے شوي وي[17] د "ځ" غږ د پیدا کېدو په دوران کښې چې کله هوا د پړپوس نه راروانه شي نو د ژبې او د اورو ترمینځه تم stop شي او بیا پرېښودې شي ځکه نو دا په اوریز تم مرلي غږ بللے شي ـ په دې غږ کښې غږبوزي (vocal folds) نه رپېږي ځکه نو ناغړن voiceless هم دے ـ هر څو که په دې غږ کښې د تې او سین مشترک غږ محسوسېږي ځکه خو ډېرو پوهانو دا په " تسي" یاده کړې ده خو چونکې تې غاښیز غاښیز غږ دے او "ځ" د اورو او ژبې د جنګېدو او د هوا د فشار په وجه یو ځانګړے او مخصوص غږ دے

خو بیا هم هغه زړه خبره چې خبره د اواز نهٔ ده بلکې د نوم ده چې کوم نوم پکار دے که څوک دا وائي چې د دې "ث ثې" او د دې "ځ ځې" ترمینځه د ادائیګی توپیر شته نو صحیح وائي خو لکه څنګه چې ذکر وشو چې ډېر پښتانهٔ دغه دواړه غږ توري سم نشي وئیلي بلکې دواړه په سین ادا کوي نو ځکه دا یوه ستونزه ده باید چې دا غږ تورے په "ځ ځیم" یاد کړے شي ـ نهٔ خو د دې غږ توري په نوم بدلېدو د غږپوهنې په حواله څه تکنیکي مسئله پیداکېږي او نهٔ د دې بنیادي غږ بدلېږي ځکه چې پېل د "ځې اوځیم" هم د دغې غږ توري نه کېږي،چونکې ژبه یو اختیاري څیز دے د یو علامت تر ډېره حده پورې د خپل غږ سره نزدې نزدې د نوم ایښودو امکانات وي بله دا چې ځیم څه جدا او نا اشنا نوم هم نهٔ دے ځکه چې تر ډېره حده پورې دغه خصوصیات لرونکي غږونه جیم او ځیم هم زمونږ سره شته ـ که چرته د پښتو منورین زما دا تجویز په " ځ ځیم" ومني نو بیا باید چې په ترتیب کښې ئې بدلون داسې راولي " ج جیم،ځ ځیم،څ څیم، چ چې،ح حې ـ خ خې" او که چرته دا تجویز ونهٔ مني او دا غږ تورے په

( ځ څې) يادوي نو بيا ئې د پښتو غږ تورو په لسټ کښې ترتيب سم دے، خو په دواړو صورونو کښې د پښتو غږ تورو د نومونو په حواله د پوهانو او ادارو په راروان وخت کښې تصحيح پکار ده ځکه چې زما په خيال د دنيا په ژبو کښې دا د خپل نوعيت يوه ځانګړي مسئله ده ـ

## حوالې

[1] راج ولي شاه خټک،ډاکټر، د پښتو نوي املاء،پښتو اکېډيمي پېښور يونيورسټي،۱۹۹۱ء مخ ۵ ـ

[2] پرېشان خټک،پروفېسر، ليک دود، دويم ځل، پښتو ادبي مرکز سرائے نورنګ(بنو) کال ۱۹۸۹ء مخ ۱۴ ـ

[3] راج ولي شاه خټک،ډاکټر، د پښتو نوي املاء،پښتو اکېډيمي پېښور يونيورسټي،۱۹۹۱ء مخ ۶ ـ

[4] بايذيد انصاري،ترتيب و حواشي،حافظ عبدالقدوس قاسمي، خېر البيان،دوېم ځل چاپ پښتو اکېډمي پېښور يونيورسټي، ۱۹۸۸ء مخ ۱۰۲ ـ

[5] راج ولي شاه خټک،ډاکټر، د پښتو نوي املاء،پښتو اکېډيمي پېښور يونيورسټي،۱۹۹۱ء مخ ۹ ـ

[6] صديق الله رښتين،پوهاند، پښتو ګرامر،يونيورسټي بک ايجنسي پېښور،کال ۱۹۹۴ء،مخ،۲۶ ـ

[7] م ـ ا ـ زيار،پوهاند ډاکټر،ليکاربښود (يوه پښتو کره پښتو) دانش خپرندويه ټولنه پېښور، کال ۲۰۰۷ء مخ۱۶ ـ

[8] محمد اسماعيل،يون، پښتو لکنی سمون، يون کلتوري يون ،کال،۱۳۸۷ل کال،مخ،۱۹ ـ

[9] مشواني،عبدالقيوم زاهد، زاهد پښتو،پښتوسيند،دانش خپرندويه تولنه پېښور،کال،۲۰۰۶،مخ ۳۷۰ ـ

[10] پښتو ليک دود او دوه ورځنۍ مرکه، پښتو اکېډمي ،۲۰۲۰مخ ۲۹ ـ

[11] خيال بخاري ـ ـ ، پښتواکېډيمي لغت،پښتو اکېډيمي پېښور يونيورسټي،کال ۲۰۱۸، مخ ۵۷۹ ـ

[12] ترين،فرهاد محمد غالب،پروفېسر ډاکټر زبېر حسرت،د پښتو کتاب د پنځم جماعت د پاره،خيبر پښتونخوا ټکسټ بک بورډ پېښور،،کال ۲۰۱۴،مخ ۷۲ ـ

[13] قلندرمومند،فريد صحرائي،پښتولغت درياب، اين ډبليو اف پي ټيکست بک بورډ پېښور، کال ۱۹۹۴،مخ ۵۵۴ ـ

[14] اجمل خټک، پشتو ادب، ماضی و حال، پشتو اکیډمی کوئټه،سال،۲۰۱۴،صفہ،۳۵۔

[15] راج ولي شاه خټک،ډاکټر،د پښتو نوې املاء،پښتو اکېديمي پېښور يونيورسټي،کال ۱۹۹۱ء مخونه ۲۰،۲۱ ـ

[16] پښتو ليک دود او دوه ورځنۍ مرکه، پښتو اکېډمي ،۲۰۲۰مخ ۶۳ ـ

[17] https://en.wikipedia.org/wiki/Affricate_consonant date 14 June 2020 PST 3:50 PM.

## Reference


1) Raj wali shah khattak,dr,da pukhto nawi imla,Pashto acedmy peshawer,1991 page 5.
2) Preshan khattak,prof, likdod 2nd edition,Pashto adabi markaz sray norang banu,1989,page 14.
3) Raj wali shah khattak,dr,da pukhto nawi imla,Pashto acedmy peshawer,1991 page6.
4) Bayazid Ansari,edit by hafiz abdul qados khairulbayan,2nd edition,Pashto acedmy,1988,page 102.
5) Raj wali shah khattak,dr,da pukhto nawi imla,Pashto acedmy peshawer,1991 page9.
6) Sadeeq ullah reshteen,pohand,Pashto grammer,university book agency peshawer,1994,page26.
7) M.A ziyar ,pohand,liklarkhod, Danish khparandoya tolan peshawer,2007,page16.
8) Yoon,Muhammad ismail,pukhto likanai samon, yoon kaltori yoon 1387l page 19.
9) Mashwani,abdul qayoom, zahid pukhto,pukhto sind,Danish khparandoya tolana peshawer, 2006,page 370.
10) Pashto likdod aw dwa wrazanai maraca,Pashto acedmy,2020,page29.
11) Khiyal bukhari..,pukhto acedmy lughat ,pukhto acedmy peshawer,2018,page 579.
12) Tareen, farhad Muhammad ghalib,prof ,Dr zubai hasrat,da pukhto kitab da pinzam da para, Khyber pukhtoonkhwa text book board peshawer,2014,page 72.
13) Qalandar momand, fareed sehraye, pukhto lughat daryab,NWFP text book boar peshawer,1994,page554.
14) Ajmal Khattak,Pashto adab mazi o hal,Pashto acedmy kwita, 2014,page35.
15) Raj wali shah khattak,dr,da pukhto nawi imla,Pashto acedmy peshawer,1991 pages,21,22.
16) Pashto likdod aw dwa wrazanai maraca,Pashto acedmy,2020,page63.
17) https://en.wikipedia.org/wiki/Affricate_consonant date 14 June 2020 PST 3:50 PM.